Llywodraeth Cymru
Welsh Government

Llinell Gymorth Byw Heb Ofn
Live Fear Free Helpline
**0808 80 10 800**
ffôn • tecst • sgwrsio byw • ebost
call • text • live chat • email



# د روغتيا او پاملرنې قانون 2022 له مخې،د انګلستان په هره برخه کې اوس دا غير قانوني ده چې د بکارت معاينه يا د بکارت د پردې ترميم تر سره، وړانديز يې وشي، مرسته ورسره وشي يا ورته هڅونه وشي.

د انګلستان د حکومت له خوا مهيا کړای شوی د بشپړ لارښود سند د تر لاسه کېدو وړ دی د بکارت معاينه او د بکارت پردې ترميم: **د ګټو ادارو لارښود - GOV.UK (www.gov.uk)**

## د بکارت معاينه او د بکارت پردې ترميم څه دی؟

**د بکارت معاينه چې د بکارت پردې**، "2-ګوتې"، يا مهبلي معاينې په توګه هم ورته اشاره کېږي، په دې موخه د ښځينه د تناسلي الي څېړنه ده، تر څو معلومه شي چې ايا يوې ښځې يا نجلۍ مهبلي جنسي اړيکه نيولې که نه.

د روغتيا او پاملرنې قانون 2022 له مخې، د بکارت معاينه په دې موخه د ښځينه تناسلي الي هره هغه معاينه (د اړيکې او له اړيکې پرته) ده، تر څو معلومه شي چې ايا مهبلي جنسي اړيکه تر سره شوې که نه.

د روغتيا نړيوال سازمان او د مور او ماشوم او ولادت د تخصصي شاهي کالج (RCOG) درېځ دا دی چې د بکارت معاينې علمي ارزښت يا کلينيکي نښه نه لري، څکه داسې پېژندل شوې معاينه نه شته چې کولای شي ثابته کړي ايا يوې ښځې مهبلي جنسي اړيکه درلوده که نه.

**د بکارت د پردې ترميم** هغه پروسه ده چې د بکارت پردې د بېرته جوړولو لپاره تر سره کېږي. د دې موخې تر لاسه کولو لپاره يو لړ لارې چارې شته، خو په عمومي ډول په دې لارو چارو کې د مهبل په خوله کې د بکارت د پردې د پاتې شونو ګنډل، يا د مهبل د نسج په کارولو سره د جراحي عملياتو له لارې د بکارت د پردې بېرته جوړول شامل وي. د دې پروسې موخه دا ده تر څو داډ ترلاسه شي چې له ښځې به هغه مهال وينه ولاړه شي، کله چې د بيا لپاره جنسي اړيکه نيسي، تر څو دا تصور ورکړي چې هغه د مهبلي جنسي اړيکې تاريخچه نه لري.

د بکارت د پردې بېرته ترميم هغه پروسو ته ورته نه دی، کوم چې د کلينيکي لاملونو لپاره د بکارت پر پرده تر سره کېږي (د بېلګې په ډول، جراحي عمليات، تر څو د بکارت پردې هغه پاتې برخې لرې کړای شي، چې د نا ارامۍ لامل ګرځېدای شي، يا د بکارت پرې شوې پردې درملنه وکړي، تر څو د حيض د وينې وتلو سره مرسته وکړي).

## د بکارت د معاینې او د بکارت پردې له ترمیم څخه څوک اغېزمن کېږي؟

داسي شواهد شته چې له 13 څخه تر 30 کلنو پورې نجونې او ښځې د بکارت د معاینې او/یا د بکارت د پردې د ترمیم له خطر سره تر ټولو زیاتې مخ دي خو نجونې او تر 8 کلنو پورې هم اغېزمنې کېدای شي. د هر عمر، قوم، توکم، جنسي میلان، دین، کمزورۍ یا ټولنیز اقتصادي حیثیت هره ښځه یا نجلۍ، د بکارت پردې د معاینې یا بکارت پردې د ترمیم موخه ګرځېدای شي. شونې ده چې له دې کارونو سره د تړلې شرم، د صدمې د هغه کچې له امله چې تجربه کولای یې شي او د "ناموس له مخې" نور ناسم چلند وېرې له امله ښځې او نجونې کلونه وخت واخلي چې د خپلو تجربو په اړه بحث وکړي.

د تش په نوم "ناموس له مخې" د نورو نا سمو چلندونو په څېر، په زیاتو محافظه کارو ټولنو او کلتورونو کې دا کارونه ډېر څله د بندو دروازو له شا تر سره کېږي. له همدې امله، د هغو ښځو او نجونو شمېر نه دی معلوم چې د دې کارونو موخه ګرځېدلې وي. که څه هم د دې پراخېدل روښانه دي، د داسې ښځو او نجونو په اړه شواهد شته چې د بکارت د معاینې او د بکارت د پردې د ترمیم د تر سره کولو لپاره د سختو فشارونو لاندې دي.

## دا په قربانیانو څه ډول اغېزې درلودلای شي؟

ښځې او نجونې دې ته اړ شوې، مجبورې شوې او شرمېږي چې د دې کړنلارو سره مخ شي، تر څو هغه شرایط پوره کړي چې یوه ښځه له واده څخه مخکې "پاکه" پاتې شي.

د بکارت معاینه او د بکارت پردې ترمیم د هغه برید د جدیت له کچې سره ورته بلل کېږي، کوم چې بدن ته د واقعي زیان لامل ګرځي.  دا د هغو فیزیکي او رواني زیان په تشخیص کې دی، کوم زیان چې د دې کارونو موخه ګرځېدلې کس ته رسېدای شي. د جدیت دا کچه همداشان د هغو کنترول کوونکو لیدلورو ښکارندوی ده کوم چې د دې کارونو تایید کوي.

هم د بکارت معاینه او هم د بکارت پردې ترمیم دواړه، د فیزیکي او رواني کنترول په ګډون، په ماشومتوب کې واده یا جبري واده او کورنۍ او/یا ټولنیزو جبري چلندونو د نورو بنو لپاره بنسټ ګرځېدای شي. هغه ښځې چې د بکارت په معاینه کې "ناکامېږي"، مومندل شوې ده چې هغوی د بکارت پردې د ترمیم له پروسې څخه تېرې شوې دي، یا هغه چې د دوی د واده په شپه وینه نه کوي احتمال شته چې د لا زیات تش په نوم "د ناموس له مخې" ناسم چلند تجربه کړي، جذباتي او فیزیکي سپکاوی، له کورنۍ یا ټولنې څخه محرومیت او ان د ناموسي وژنو په ګډون تجربه کړي.

دا کارونه سپکاوي کوونکي او مزاحمت کوونکي دي. دا د سختې رواني صدمې لامل ګرځېدای شي او د اندېښنې، ډیپریشن او له صدمې وروسته فشار اختلالاتو په څېر حالات پیدا کولای شي. دې کارونو ته له ځانوژنې سره هم تړاو ورکړل شوی دی. شونې ده چې دا له فیزیکي اړخه زیان رسوونکي وي. د بېلګې په ډول شونې ده چې د بکارت معاینه د بکارت پردې ته د زیان رسېدو، د مهبلي دیوال د څېرې کېدو یا زیانمنېدو، وینې بهېدو او عفونیت لامل وګرځي. د بکارت پردې په ترمیم کې هم د عفونت خطر لوړ دی، په کومو کې چې د دې پروسې پر مهال د سختې وینې بهېدل، د مهبل د خولې زخمي کېدل یا تنګېدل او جنسي ستونزو اضافي خطرونه هم شامل دي.

## که ته د یو چا په اړه چې پېژنې یې دا وېره لرې چې د بکارت د معاینې یا د بکارت پردې د ترمیم له ګواښ سره مخ یا مخ کېدای شي، څه باید وکړې؟

د قانون په انفاذ سره د انګلستان د حکومت له خوا وړاندې کړای شوی یو بشپړ لارښود سند تر لاسه کېدای شي د بکارت معاینه او **د بکارت پردې ترمیم: ګډو ادارو لارښود - GOV.UK (www.gov.uk)**



## د ویلز ځانګړي ملاتړ لپاره:

که یو څوک د سملاسي خطر سره مخ وي **999 ته زنګ وهلو سره له پولیسو** سره اړیکه ونیسه او د پولیسو غوښتنه وکړئ.

د خپل خونديتابه هغه کړنلارې تعقیب کړه چې ستا د ګومارونکي/وړاندې کوونکي له خوا بیان شوي دي.

## په ویلز کې د قربانیانو لپاره موجود مرستندویه خدماتو کې لاندې شامل دي:

**له وړیا پرته مستقیمه مرستندویه کرښه** د ټولو قربانیانو او کورني ناسم چلند او جنسي تاتريخوالي څخه ژغورل شويو او د کورنۍ، ملګرو او همکارانو او نورو اړوندو په ګډون له دوی سره نږدې ټولو لپاره وړیا 7/24 خدمات دي.

**اړیکه:** 0808 80 10 800

**لیکلی پیغام:** 0786 007 7333

**برېښنا لیک:** info@livefearfreehelpline.wales

**په ژوندۍ بڼه اړیکه:** **gov.wales/livefearfree**

**Bawso** په ویلز کې مخکښ سازمان دی، کوم چې توروپوستي لږکي توکم او د کورني ناسم چلند، جنسي تاوتريخوالي، بشري قاچاق، FGM او جبري واده کېدوالو قربانیانو ته عملي او عاطفي ملاتړ وړاندې کوي.

**مرستندویه کرښې ته زنګ ووهه:** 0800 731817

**برېښنا لیک:** helpline@bawso.org.uk

**MEIC** په ویلز کې د ماشومانو او تر 25 کلنو ځوانو خلکو لپاره یو وړیا، محرم، بې نومه او دوه ژبې مرستندویه کرښه ده، چې معلومات، ګټورې مشورې او ملاتړ وړاندې کوي.

Meic په اونۍ کې 7 ورځې د سهار له 8 بجو څخه تر نیمې شپې د تلیفون، لیکلي تلیفوني پیغام او فوري پیغام استولو لپاره پرانیستې وي.

**وړیا تلیفون:** 0808 80 23456

**لیکلی پیغام:** 84001

**په ژوندۍ بڼه اړیکه:** **www.meiccymru.org**

## د جنسي ناوتريخوالي د ملاتړ خدمات

په شمالي ویلز کې (Anglesey, Conwy, Gwynedd, Flintshire, Denbighshire and Wrexham)، د جنسي تاوتريخوالي د مرستې 2 مرکزي خدمات موجود دي:

- د جنسي تيري او جنسي ناسم چلند د ملاتړ مرکز (RASASC)، هر هغه چاته معلومات، د متخصصينو ملاتړ او درملنه وړاندې کوي، چا چې کوم ډول جنسي ناسم چلند یا تاوتريخوالی تجربه کړی وي. له دوی سره په 01248 670 628 شمېره یا **info@rasacymru.org.uk** برېښنا لیک اړیکه نیول کېدای شي
- Stepping Stones هغو بالغانو ته درملیز خدمات وړاندې کوي، څوک چې په کوچنیوالي کې د جنسي ناسم چلند سره مخ شوي وي. له دوی سره په 01978 352 717 شمېره یا **info@steppingstonesnorthwales.co.uk** برېښنا لیک اړیکه نیول کېدای شي

په منځني، لویدیځ، ختیځ او سویلي ویلز کې، د جنسي تاوتريخوالي ملاتړ خدماتو وړاندې کونکی مرکزي اداره New Pathways ده. له دوی سره په 01685 379 310 شمېره یا **enquiries@newpathways.org.uk** برېښنا لیک اړیکه نیول کېدای شي

**Karma Nirvana** د ناموس له مخې د ناسم چلند ملي مرستندویه کرښه ده، چې مسلکیانو ته روزنه ورکوي، د پالیسیو او خدماتو د خبرولو لپاره معلومات راټولوي او د بدلون لپاره کمپاین پر مخ وړي.

**مرستندویه کرښه:** 0800 599 9247

## د جبري واده واحد

**د جبري واده واحد** (FMU) یو ګډ بهرنی، ټولګټو او پرمختیایي دفتر (FCDO) او د کورني دفتر واحد دی، کوم چې د حکومت د جبري واده پالیسی، خبرولو او پېښو ته د رسېدګۍ مشري کوي. دا هم د انګلستان په دننه کې (چېرته چې هر کس ته ملاتړ وړاندې کېږي) او له هېواده بهر (چېرته چې د دوه تابعیته په ګډون بریتانوي وګړو ته مشورتي مرستې وړاندې کېږي) فعالیت کوي.

**اړیکه:** 020 7008 0151

**برېښنا لیک:** fmu@fcdo.gov.uk



© Crown copyright 2022 د ویلز حکومت، WG45900 OGL